# A Short historical prospective of Ashnaghar

## د اشنغر د سيمي لنډه تاريخي جائزه

Sher Akbar[1] Dr Ahmad Ali Ajiz[2]


ABSTRACT

*Ashnaghar has a long history. It was a big city for the Persian Kingdom, Greece Kingdom, Moraya dynasty in BC. It has been named differently in different times like Pushkilawati, Seenaar, Hasti Nagar and Hashnaghar which is nowadays called as Ashnaghar. It is awide area located in district Charsadda of Khyber Pukhtoonkhwa near to Kabul River, Swat River and Jindi River. It is inhibited by Sarbani tribes of Pukhtoons such as Muhammadzai, Abazai, Durani and Momand. This research article will facilitate especially those people who are aware of the literary background of Ashnaghar but have not a proper knowledge about its historical geographical and other aspects.*


**Keywords:** Ashnaghar, history, geographical, Ashnaghar Rivers, Ashnaghar Historical Names.

[1]Ph.D. Scholar, Pashto Department, University of Peshawar
[2] Assistant Professor, Pashtu Department, University of Peshawar


Volume 7 | Issue II | July – December 2022

اشنغر ډېر زوړ تاريخ لري،په لرغوني زمانه کښې دا د ايرانيانو،يونانيانو او موريا خاندان د سلطنت ياد ښار وۀ ـ په بېلا بېلو وختونو کښې دا په بېلا بېلو نومونو ياد شوے دے لکه پشکلاوتي، اشتانگر، هستي نگر، هشتنگر، سينعار، هشتنغر، اشنغر او چارسده ـ نن سبا د دې سيمې د ضلعې نامه هم چارسده ده، ولې په اولس کښې داشنغر په نامه هم ياديږي ـ

د اشنغر خاوره پخوا نه د بېلا بېلو قامونو او تهذيبونو ټاټوبے پاتې شوے دے ـ کوم غاوره قامونه چې د ظلم او جبر په نشه کښې دلته راغلي دي او الغاؤ تلغاؤ ئې جوړ کړے وۀ نو دې خاورې د ډېرو غاورو قامونو ظلم او جبر نشه د سر نه کوزه کړې ده او ډېرې کبرژنې ککرې ئې ماتې کړې دي ـ لکه د ايرانيانو، يونانيانو، موريا کوشانيانو، هندو شاهي، مغلو، سيکانو او فېرنگيانو او داسې نورو ـ اشنغر د تاريخ په پاڼو کښې ډېر لوړ مقام لري ـ دا د گندهارا تهذيب مرکز او صدر مقام وۀ ـ په دې خاوره ډېر زاړۀ مذهبونه تېر شوي دي،لکه هندومت، بُدمت، سيک مت او اسلام ـ

په دې خاوره بُدمت ډېره وده موندلې ده چې پکښې د بُدمت پېروکار اشوکا، کنشک،هېون سانگ او فاهيان ډېر لاس لرلوـ باچا خان خپل کتاب " زما ژوند او جدوجهد" کښې ليکي:

” د دې ځاے وسېدونکي پښتانۀ وو خو بدستې ووو، بودائي مذهب له دې ځايه د سوات او گلگت په لاره تبت او چين ته تلے او خور شوے دے او بُدمت ځلورمه مذهبي غونډه هم په دې ځاے کښې شوې ده" (١)

خېبر پښتونخوا چې پخوا به ورته صوبه سرحد، په انگرېزی کښې North West Frontier Province، په لنډه توگه NWFP، په اردو کښې شمال مغربي سرحدي صوبه، پښتو کښې صوبه سرحد يا قطبي قبلئيزه بريدي صوبه چې د افغانستان په بريد پرته صوبه ده ـ په دې صوبه کښې د چارسدې ضلع يو ځانگړے مقام لري ـ چې د خېبر پښتونخوا صدر مقام پېښور نه ٢٩ کلوميټره په ختيز اړخ پرته ده ـ د فېرنگي راج وخت کښې د پېښور تحصيل وۀ چې د اشنغر تحصيل په نامه يادېدۀ ـ چې د خېبر پښتونخوا پخواني گورنر فضل حق ورته په ١٩٨٨ء کښې د ضلعې درجه ورکړه ـ رقبه ئې ٩٩۶ مربع کلوميټره ده او ابادي ئې د ٢٠١٧ء مردم شماری مطابق ١۶١۶١٧٧چې پکښې دريم جنس نه علاوه ٨٢٠۵٢٠ سړي او ٧٩۵۶۵٧ ښځې شاملې دي ـ خلک ئې پښتانۀ دي او په هېره پښتو ژبه وائي ـ

چارسده دوه غټې برخې لري ــ يوې برخې ته اشنغر او بلې ته دواوه وائي چې د بېلتون کرښه ئې خيالے سيند دے ــ بيا اشنغر په دوؤ برخو وېشلې شوے دے چې يوې برخې ته سوېلي اشنغر (جنوبي اشنغر) او بلې برخې ته قطبي اشنغر (شمالي اشنغر) وائي ــ په انتظامي لحاظ سره چارسده درې تحصيلونه لري ــ د چارسدې تحصيل، د تنګي تحصيل او شبقدر تحصيل ــ د چارسدې تحصيل سويلي اشنغر (جنوبي اشنغر)، د تنګي تحصيل په قطبي اشنغر (شمالي اشنغر) او د شبقدر تحصيل په دواوه کښې راځي ــ په اشنغر کښې محمدزي او مومند قبيله ژوند کوي ــ

## خيالے سيند :

په اشنغر کښې جيندے او په پوله ئې خيالے او سرددرياب بهيږي ــ په اشنغر کښې خيالے د سوات سيند ته او سرددرياب د کابل سيند ته وائي چې د هندي ارياؤ په مشهور مذهبي کتاب "رګ وېد" کښې د دې سيندونو ذکر راغلے دے چې ۱۴۰۰ ق م کښې ليکلے شوے دے ــ خيالے د سواستو په نامه ذکر شوے دے ــ سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل د دې سيند په حقله ليکي:

> "سوتي يا سواستو (Suvastu) په رګ وېد کښې دا نامه د سواستو په لفظ او يونانيانو د سواستن په نامه ذکر کړې ده ــ د دې نه مراد د سوات سيند دے ــ" (۲)

د سوات سيند په حقله د سوات د سيمې نامتو او وتلے څېړنکار ښاغلے محمد پروېش شاهين ليکي چې:

> "دریائے سوات کا سب سے بڑا لمبا اور دل خوش کرنے والا دریا ہے۔ یہ سوات کے زرخیزی کا بجر الورید ہے۔ اس کے علاوہ سوات میں کئی اور بے شمار چھوٹے دریا (خوڑ) بہتے ہیں، جن میں درال، چیل، لوئے، خوزہ خیل، منگلور، جامبیل، مرغزار، بادولی، ارونی، میاں دم، مدین اور شاپور خوڑ مشہور ہیں۔" (۳)

دغه شان د سوات د سيمې نامتو او تکړه صحافي فضل رابي راهي په دې اړه ليکي چې:

> "موجودہ دور میں اس کا معروف نام دریائے سوات ہے اور جب یہ دریا وادی سوات کی حدود سے باہر نکل جاتا ہے تو دریائے پنج کوڑہ (دیر) کا معاون ہونے کی وجہ سے اسے دریائے پنج کوڑہ کے نام سے بھی پکارہ جاتا ہے۔ جب کہ وادی پشاور اور چارسدہ میں یہ دریا جیندی اور خیالی کے ناموں سے مشہور ہے۔ دریائے سوات کی مجموعی لمبائی کالام سے ضلع چارسدہ ہیں۔ نستہ تک تقریبا 210 کلومیٹر بنتی ہے۔" (۴)

راهي صاحب د سوات يو تکړه صحافي دے خو د سوات سيند د بېلا بېلو نامو او د سوات سيند فاصلې په لړ کښې تري نه تېر وتني شوي دي لکه د سوات سيند ته پنج کوړه وئيل ـ بلکې پنج کوړې ته د سوات سيند وائي ځکه چې پنج کوړه د دير سيند دے او ملاکنډ کښې سوات سيند ته پرېوتے دے ـ دغه شان د سوات سيند ته د جيندې سيند وئيل سم نۀ دي ځکه چې جيندے بېل سيند دے چې اشنغر کښې د سوات سيند نه په ډېره فاصله کښې بهېږي چې د موټروے نه ښکته په نستة کښې سردرياب ته پرېوتے دے ـ بل دا چې د سوات سيند سردرياب ته پرېوتو پورې څۀ درې سوه شاوخوا کلوميټره فاصله لري ـ

په دې اړه د سوات د سيمې د نوي کلي وسېدونکے او د ګورنمنټ هائير سيکنډري سکول فتح پور سينئر کلرک اسماعيل خان چې څوارلس کاله ئې د سوات سيند په سرچينو کښې تېر کړي دي ـ خپله وېنا کښې وائي چې:

> ”د سوات سيند سرچينې د چترال او سوات پولې نه شروع کېږي چې دوه غټې سرچينې لري ـ يوه د پولې نه په ګبرال او اتروړ کالام ته راوتې دي او بله د پولې نه په مهوډنډ او مټلټان کالام ته راوتې ده ـ دواړه کالام کښې يو ځائے شوې دي او ځائے په ځائے ورسره نور خوړونه دي مانکيال، درال، چېل، ميادم، سخره، مټې او خوازه خېلې خوړ يو ځائے شوي دي او د سوات نه ملاکنډ، مومند او بيا چارسدې ته وتے دے او سردرياب ته پرېوتے دے ـ“ (۵)

د ښاغلي اسماعيل بابو صاحب وېنا بېخي سمه ده ـ د سوات سيند سرچينې د چترال، ګلګت او د سوات د پولې د غرونو نه په بېلا بېل ځايونو کښې شروع شوي دي، کالام کښې يو ځائے شوي دي او بيا ورسره په لاره په بېلا بېل ځايونو کښې بېلا بېل خوړونه يو ځائے شوي دي ـ لکه مانکيال خوړ، درال، خوړ چېل خوړ، ميادم خوړ، سخري خوړ، مټې خوړ، خوازه خېلې خوړ، مرغزار خوړ او داسې نور خوړونه مينګوره باندې راتېر شوے دے او بيا په ملاکنډ ضلعې ورغلے دے ـ د دير سيند (پنج کوړه) ورته پرېوتے دے ـ بيا په مومندو ضلع ورغلے دے او د يوسف بابا نه په قبله تلے دے او بيا په مونډه ورغلے دے چې دلته پرې نن سبا مومند بند تړلے کېږي ـ د دغه ځائے نه د اشنغر په سيمه مزل کوي چې دغلته ورته د خيالي نامه اخستلې کېږي ـ د چارسدې بازار نه دوه کلوميټره فاصله

کښې تېر شوے دے او دغلته سردریاب ته پرېوتے دے ــ درې سوه خواوشا کلومیټره فاصله لري ــ

د سوات تووله شُکلا او رنګیني د دې سیند په وجه ده ــ فطرت پرې ډېرې پېرزوني کړې دي ــ زیات تره بازارونه ،کلي او هوټلي د دې سیند په غاړه دي لکه ګبرال، اترور، کالام، مټلتان، پشمال، مانکیال،بحرین،مدین،فتح پور،باغ ډېرې،شین،درشخېله،مټه،خوازه خېله،چارباغ او مینګوره ــ هم د دې سیند په وجه سوات په بېلا بېل نامو لکه د جنت ټکړه،فردوس برِیں او مشرق سوئزرلېنډ یاد شوے دے ــ د دې سیند سیلابونه په غر او د اشنغر په شُکلي مخ د غضب څپېړه ده چې د سترګې په رپ دغه تووله شُکلا ختمه کړي او تول وطن لاهو کړي ــ په دې سیند کښې تراوټ کبان هم موجود دي ــ بجلي ګر پرې جوړ دے ــ د اشنغر د کروندې زمکې په اوبهٔ خوَر کښې لوے لاس لري بلکې تووله د اشنغر زمکه خړوبوي ــ د دې سیند، ډنډونو او چړونو یادونه په اولسي ادب،ټپو او سندرو کښې شوې ده ــ لکه دلته یوه ټپه وړاندې کوم:

خاونده! بیا دې پسرلے کړو

غړانګوره شپونکی بیا درال ته ځینه

سردریاب :

اشنغر په سیمه بل سیند سردریاب دے چې ډېر غټ سیند دے ــ دې ته د کابل سیند هم وائي ــ د سردریاب په حقله سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل لیکي چې:

"کوبها (Kubha) دا سیند چې یونیانو د کونن په نامه یاد کړے دے او په رګ وېد کښې د کوبها په نامه ذکر کړے دے،مُراد ترې نه د کابل سیند دے ــ" (۶)

سردریاب په حقله آصف علي خپل کتاب کښې لیکي چې:

"سردریاب د چارسدې یو مشهور سیند دے او یو وړوکے د سېل مقام دے ــ دا د پېښور نه ۲۴ کلومیټره او د چارسدې نه ۵ کلومیټره کښې پروت دے ــ د چارسدې نه سردریاب پورې علاقه د سړک یو خوا بل خوا سرسبزو شاداب علاقه ده ــ" (۷)

زلمے لیکوال محمد حسان په دې حواله خپله وېنا داسې څرګندوي چې:

”یہ دریا افغانستان کے دارالحکومت کابل سے کوئی 45 میل مغرب میں سرچشمہ کے مقام سے نکلتا ہے اور چار دیہہ کے قریب میدانی علاقے میں داخل ہوتا ہے۔ شہر کابل کے بیچوں بیچ پہنچتے ہوئے یہ ایک معمولی ندی سے زیادہ بڑا دکھائی نہیں دیتا۔" (۸)

سردریاب سرچینې د افغانستان ولایت پغمان د درو نه شروع کېږي چې په کابل او جلال اباد باندې راغلے دے ـ په افغانستان کښې مرستیال سیندونه د پنجشېر سیند،کونړ سیند،لوګر سیند او علېنګار سیند دے ـ په افغانستان کښې د هند په مرسته یو بند هم تړے شوے دے ـ پاکستان کښې د مومندو او خېبر ضلعې په پوله ئې مزل کړے دے ـ بیا په پېښور راغلے دے چې د غلته پرې د ورسک بند تړلے شوے دے ـ بیا په چارسده کښې داخل شوے دے ـ چې دلته ئې مرستیال سیندونه جیندے او خیالے دي ـ دواړه ورته په چارسده کښې پرېوتې دي ـ بیا په نوښار ورغلے دے او د اټک په مقام اباسین ته پرېوتے دے ـ دا ټوله فاصله ۷۰۰ کلومیټره لري ـ

جیندے:

تر اوسه پورې چې څېړنکارو د جیندي په حقله کوم روایات بیان کړي دي،د هغوي ترمخه جیندے،شاخ، نهر او ژوند په مفهوم کښې استعمال شوے دےـ د جیندي په حقله موږ سره څۀ کوټلي معلومات نشته ولې په هندی ژبه کښې "جی" او "جینا" داسې ټکي دي چې موږ سره د جیندي په معنٰا کښې تر څۀ حده مرسته کوي چې معنٰی ئې "ژوند" ده ـ اوبۀ د ژوند علامت دے چرته چې اوبۀ وي هلته ژوند وي نو په دې وجه کۀ جیندي ته جیندے ووئیل شي نو دا به غلط نۀ وي ـ د جیندي په حقله ډاکټر مصطفٰی کمال خپلې پي ایچ ډي مقاله "د اشنغر خاوره، خلک او ادب" کښې لیکي:

”دغسې جیندے هم د سوات یا خیالي د سیند نه را بېل شوے غټ نهر دے نو ځکه موږه هم په دغو زړو نهرونو کښې شمېرلے شو چې د ډېرو زړو وختونو راهسې د اشنغر د زمکو او پټو اوبۀ خور لویه ذریعه ده" (۹)

د مصطفٰی کمال دې دعوې سره موږ اتفاق نۀ کوو، ځکه نۀ دا نهر دے او نۀ د خیالي سیند نه را بېل شوے دے او نۀ ئې

ځهٔ دلیل وړاندې کړے،چې کوم ځاے کښې دا د خیالي سیند نه بېل شوے ـ ښاغلے ګوهر علي ګوهر د جیندي باره کښې وېنا ځهٔ په دې ډول ده :

> ” جیندے د چینو او خوړونو نه جوړ هغه خوړ دے چې د ملاکنډ ضلعې منزري بابا سره د برچړي چینو نه شورو کېږي او د سپین خړو نه د مومند ضلعې پړانګ غار تحصیل کښې مزل کړے او د چارسدې ضلعې د تنګي تحصیل پلۍ بند ته راوتے دے او بیا د جیندي بازار نه په عمرزو، ترنګزو تېر شوے دے ـ په ترنګزو په قسطمین خېلو په سیمه ورسره د خیالي سیند نه ولې پرېوتې دي او بیا د بابړې،شابړې نه په موتړروے د پل د لاندې وتے دے او په نسته کښې سردریاب ته پرېوتے دے“ (۱۰)

د ښاغلي ګوهر علي ګوهر وېنا سره اتفاق لرم ځکه چې د هغه وېنا جغرافیائي او عقلي لحاظ سره سمه ده ـ د جیندي سر، اخر، د چینو ولو او خوړونو یادونه ئې په مناسب ډول کړې ده ـ

جیندے د اشنغر په سیمه هغه خوړ دے چې کالو سر پکښې اوبهٔ بهیږي ـ د جیندي جرړه د ملاکنډ ضلعې د کوټ کلي د منزري بابا نه بره برچړۍ نومې ځاے نه شورو کېږي ـ بیا سپین خړو او ځهٔ فاصله ئې د مومندو ضلعې پړانګ غار تحصیل کښې مزل کړے دے بیا د چارسدې ضلعې د تنګي تحصیل کښې پلۍ په سیمه راغلے دے چې د پلۍ په مقام پرې یو بند تړلے شوے دے چې خلک ورله سېل له ځي ـ کشتۍ هم پکښې چلېږي،بیا ورسره د ګنډېري بابا خوړ یو ځاے شوے دے ـ جیندے بیا هم په دغه نامه یو بازار هم لري چې د جیندي بازار ورته وائي ـ په دغه بازار باندې راغلے دے، د دې نه پس بیا کنیور، عمرزو، ترنګزو، اتمانزو، رځړو، چارسدې بابړې او شابړې ته راوتے دے او په موتړروے تېر شوے دے او په نسته کښې سردریاب ته پرېوتے دے ـ ترنګزو کښې ورسره د خیالي سیند ولې هم یو ځاے شوې دي ـ دغسې د جیندي وجود د چینو، وَلو او خوړونو نه جوړ دے ـ اوبهٔ ئې صفا، خوږې او پستې دي، کبان هم پکښې شته او شا و خوا زمکو او پټو اوبهٔ خور ضرورت هم پوره کوي ـ د اشنغر په ادب ئې هم ډېر ژور اثر پرېښے دے، په اولسي ادب، ټپو، سندرو، بدلو او غزلو کښې ئې ډېره یادونه شوې ده ـ

یار د جیندي په غاړه وسي

زۀ د اوبو په بانه کوومه ډېدنونه

نۀ پوهېږم زۀ د چا په زړۀ ځکه غولاؤ شم
ښښلي مې صفا ساده اوبۀ دي د جيندي (۱۱)

اوس به څۀ له ما نه صبر ارام غواړي
چې مې يوړو مال متاع د عشق جيندي بيا (۱۲)

خوب وينم چې ناست يم د جيندي په يخه غاړه
شا مې سوېلو کښې لکه سره شمع ولاړه (۱۳)

ډک زړۀ د ارمانونو د جيندي په غاړه پرېږدي
ليدلے چې چا دلته کښې يو وار مازيګرے دے (۱۴)

ځئ چې د جيندي لنډي بازار ښُکلي ګودر ته ځو
ځئ چې اشنغر ته ځو (۱۵)

ښُکلي به تول وي د جيندي په غاړه
پښکال مات شو اشنغر ته ځمه (۱۶)

ګرځيدلو چې به دواړه
د جيندي په غاړه غاړه (۱۷)

کۀ يو اړخ ته د دې سيندونو په بهېدو د ا خاوره اوبو خړوب کړې ده چې له کبله د برسنډو ګلونه ټوکوي، نو بل اړخ ته د شعر و ادب ،علم او سياست په حواله هم دا خاوره ډېره شتمنه ده چې وخت په وخت ئې د ژوند په هر ډګر هغه وتلي خلک زېږولي دي چې د معيار په اسمان لکه د ستورو روښانه دي او نوي ګُول ته لار ښائي ــ دې سيمې حضرت شېخ علي بن يوسف (پړانګو باباؒ)،پير بهاؤ الدين (نېموړئ باباؒ)،مولانا عبدالعزيز، ترنګزو باباجيؒ (فضل واحد) ، د رځړو صاحب حق صېب (مولانا

صبیح الدین)، شوړاکو مولوي صیب (حضرت سید)، مفتي عبدالله شاه، مولانا ګوهر شاه، مفتي ګوهر شاه،مولانا ادریس، ډاکټر خان صیب، باچا خان، ولي خان،غني خان،حاجي محمد امین،حیات محمد خان شیرپاؤ، افتاب احمد خان شیرپاؤ،قاضي مُلا، میراوس، اسماعیل شاهد، زرشاد علي، عالمزیب مجاهد،سید سردار باچا او داسي نور خلک زیږولي دي چي تاریخ ئي نۀ شي هیرولے ـ

بیا په تیره تیره اشنغر سیمي هغه وتلي شاعران او ادیبان زیږولي دي چي په نثر او نظم کښي پښتو ادب ته ئي ډیر څۀ ورکړي دي ـ دغه شان د غزل په میدان کښي ئي هم ځان ته یو نوم ګټلے دے چي د شاوخوا نورو سیمو خلک ورته ګوته په خلۀ دي ـ د غزل په دغه شاعرانو کښي میاداد،علي خان، بیدل اشنغرے،احمد دین طالب،عبدالاکبر خان اکبر،فضل حق شیدا،محمد اکبر خادم،ډاکټر محمد اعظم اعظم،اکرام الله ګران،اشرف مفتون،اشرف غمګین،اختر منیر منیر،محبوب ګل یاسر،اجمل صادق،محمود احمد ناچار،ګوهر علي ګوهر،دوست محمد بحر ،صادق امن زے،او داسي نورـ

د اشنغر په سیمه بیلا بیلو وختونو کښي بیلا بیل تحریکونه چلیدلي دي چي د اشنغر په غزل ئي ډیر اثرات پریښي دي ـ په دغه تحریکونو کښي روښاني تحریک،د ترنګزو باباجي اصلاحي او جهادي تحریک، انجمن اصلاح الافاغنه، خدائي خدمتګار تحریک،جماعت ناجیه، زلمے پښتون او مزدور کسان تحریک د ذکر وړ دي ـ د اشنغر خاوري ته کۀ مونږ د تحریکونو مور ووایو نو غلطه به نۀ وي ـ د اشنغر د سیمي هُنرمندان په نړیوال کچ خپل نوم لري ـ د دې سیمي د غفور مارکیټ څپلۍ،د رځړو خامتا او مټایان،غټې وریژې،د خیالي او سردریاب سیند مهیان،د ابازو امونه او ګوړه ډیره مشهوره ده ـ د دې سیمي د ګوړې باره کښي منشي ګوپال داس " تاریخ پشاور" کښي لیکي:

"قندِ سیاہ، تحصیل دوآبہ اور ہشت نگر کا مشہور ہے" (۱۸)

قندِ سیاه فارسی کښي ګوړې ته وائي ـ د اشنغر پیغلي چي د خپل رب نه دُعا غواړي نو دا دُعا کوي چي د ګوړې نرخ ښۀ کړي چي زما لالے کوېدن وکړي ـ

د اشنغر د ګوړې نرخه
الله دې ښۀ کړه چي لالے کوېدن کوینه

او بیا مصالي داره ګوره د دي سیمي ډېره خوږه ډالۍ ده ـ د اشنغر د پېژندګلو او شهرت اندازه د دي نه هم کېږي چې سرکاري، نجي سرکاري ځایونه، دکانونه او ادبي ټولني په دي نوم خپله پېژندګلو کوي ـ لکه پېښور ښار کښې اشنغری دروازه، هشتنګر پبلک سکول مندني، اشنغر ادبي ټولنه، پښتو ادبي ترون شمالي اشنغر،شولګره ادبي ټولنه اشنغر،جیندي پښتو ادبي جرګه شمالي اشنغر او داسي نور بې شمېره ـ

حوالي


1. عبدالغفار،زما ژوند او جدوجهد،پېښور،امن پرنټنګ پرېس،مخونه : ۳۳،۳۴
2. ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې، پېښور، یونیورسټي بُک ایجنسي،ایډیشن شپږم ځل،۲۰۰۶ء،مخ: ۶۱
3. شاهین،محمد پرویش،مشرق کا سوئزرلېنډ وادي سوات،لاهور،تایا سنز پرنټرز،۲۰۰۹ء،مخ: ۲۰

4. راهي،فضل ربي،وادی مینګوره،لاهور،زاهد بشیر پرنټرز، اپریل ۲۰۱۹ء،مخ: ۴۵
5. د اسماعیل خان بابو سره نېغ په نېغه مرکه،ځائے نوے کلے خوازه خېله سوات،نېټه ۳۰/۳/۲۰۲۲
6. ظفر، بهادر شاه، کاکاخېل، پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې،مخ: ۶۰
7. اصف علي،د چارسدې تاریخ د دوړو لاندې،چارسده،ستمبر ۲۰۱۲ء،مخ: ۳۰
8. نصیر،محمد حسان،چارسده تاریخ کے آئینے میں،پېښور،نور پرنټرز، اګست ۲۰۲۱ء،مخونه: ۴۰،۴۱
9. مصطفی کمال،ډاکټر،د هشنغر خاوره خلق او ادب،پي ایچ ډي مقاله، ناچاپه،مخونه: ۳۹،۴۰
10. د ګوهر علي ګوهر سره نېغ په نېغه مرکه،کودینکه شمالي اشنغر،۳۰/۶/۲۰۲۲
11. علي خان،د علي خان دیوان،مقدمه،ډاکټر راج ولي شاه خټک،پېښور،دانش خپرندویه ټولنه،۲۰۰۵ء،مخ: ۱۵۸
12. بېدل اشنغرے،دیوان بېدل،مرتبه، همېش خلیل،پېښور،شاهین برقي پرېس، اکتوبر ۱۹۵۷ء،مخ: ۱۲
13. غني خان،د غني خان کلیات،سمونه، ایاز الله ترکزے،فېصل فاران،پېښور، اعراف پرنټرز، اکتوبر ۲۰۲۱ء،مخ: ۵۵۲
14. ګران، اکرام الله،زما غزل،لاهور،ملت ایجوکیشنل پرنټرز،۲۰۰۲ء،مخ:۱۳۸
15. غمګین،محمد اشرف،نمر د پلوشو سره (کلیات)،مردان،مرکه خپرندویه ټولنه،ستمبر ۲۰۱۸ء،مخ: ۱۰۳
16. بحر،دوست محمد،فېس بُک پاڼه
17. ګوهر،ګوهر علي،زهٔ لا هغسې تا غواړم،پېښور، اعراف پرنټرز، ایډیشن دویم،۲۰۱۷ء،مخ: ۱۱۸
18. ګوپال داس،تاریخ پشاور،لاهور،ګلوب پبلشرز،مخ: ۴۶